محمد اسحاق بـرکت
ویرجینیا امــریکا

۰۹ ـ ۰۱ ـ ۲۰۰۹

## تیلفوني سوغات

د بېلتانه شپه دي رنـا کـړه راتـه
په هغه شعــر چي مرغلري تويوينه

که زړګي کورکي مي مېلمه شوې کله
دغه تحـــفه به سوغاتي وړاندې کومــه

(نعمته) ته خو ډېرهوښيار په خلکو ګران يي
دغــــــه خبره د دنيـــا له تجــربي در تـه کومه

په تيلفوني يارانو هيڅ باور ونه کړې
خوشحـــال به تا کړي غېږ د بل چا تودوينه

په تيلفون کي به سندرې وايي تا ته
د يـارانــــــــى نخـا به بل چا ته کـوينـه

په تيلفون کي به خپل ځان درته (ليلا) کړي
تا به (مجنون) د بيابان کــــړي سرګران وګرزوينه

چي دې پالنګ ورسره تود نه شي (نعمته)
تيلفوني ياران به تــل تــــاغــو لوينــــه

چي يي په غېږ کي ويده نه شي (برکته)
له هغي ميني به توبه توبه باسي مينه